# د خدائي خدمتګارانو تحريک

## ولې جاري شوے دے؟

باچا خان

زما خوږو پښتنو ورونو! ما همېشه په خپلو تقريرونو کښې تاسو ته د خدائي خدمتګارۍ د تحريک اصلي مقاصد په واضحو لفظونو کښې بيان کړي دي. څۀ خبرې مې پټې پرېښې نۀ دي. ولې بيا هم کېدے شي چې زما څنې ورونه داسې هم وي چې هغوي ته زما د تقرير اورېدو موقع په لاس ورغلې نۀ وي يا ئې تقريرونه اورېدلي وي خو په مطلب ئې ښۀ پوه شوي نۀ وي او يا پوه شوي هم وي خو د اخوا دېخوا خبرو په اورېدو سره ئې په زړۀ کښې څۀ شکونه پېدا شوي وي. نو نن زۀ د خپل اخبار "پښتون" په ذريعه يو ځل بيا په صافو صافو لفظونو کښې د خپل جاري کړي تحريک خدائي خدمتګارۍ د نصب العين په حقله يو څو خبرې کول غواړم او په دې خبرو تاسو پوهول غواړم چې دا تحريک د څۀ غرض دپاره شروع شوے دے؟ فائده به ئې څۀ وي؟ او خبر به ئې چا ته وي؟

زما خوږو ورونو! د خدائے پاک داسې يو نظام دے، د قدرت يو عام قانون دے چې د کوم وخت نه ئې دنيا پېدا کړې ده او د آدم عليه السلام اولاد ئې په دنيا کښې خور کړے دے نو د دنيا د بېلې بېلې حصې اوسېدونکي ئې په بېل بېل قام مشهور کړي دي او هر يو قام ته ئې د زمکې يوه حصه يا يو ملک ورکړے دے. دا څۀ دپاره؟ د دې دپاره چې هر يو قام پخپل ملک کښې اباد وي او د خپل ژوند ضروريات د هغې خپل ملک نه پوره کړي او هر يو قام د دغې خپل ملک اختيار مند او واکدار وي.

> **ورونو! خبره دا ده چې بېشکه ملک خو مو شته، ولې اختيار مو پکښې نشته، قام خو يو، خو غلامان يو، نعمتونه خو هر څۀ زمونږ په ملک کښې پېدا کېږي خو فائده ئې بل يو قام ته رسي، ملک زمونږ دے، مزې پرې نور کوي.**

نو مونږ چې څۀ وخت د قدرت دې عامې قاعدې ته وکتل نو ومو ليدل چې په موجوده دنيا کښې څومره قامونه اوسي نو د هر يو قام ځان له يو ملک په قبضه کښې دے، هر يو قام د خپل ملک مالک دے، د هر يو ملک په حاصلات او آمدنۍ د



هغې خپل قام بال بچ اباد او خوشحال وي نو بيا چې مو خپل ملک ته وکتل او پښتون قام ته مو نظر وکړو نو حيران پاتې شو چې آخر څۀ وجه کېدے شي چې د شلمې پېړۍ په دې ترقۍ مونډلې دنيا کښې پښتون قام لا هغسې بې علمه او جاهل دے، بې کسبه او بې هنر دے، بې وسه او بې کسه دے، خوار او ذليل دے، بربنډ او اوږے دے، ولې مونږ قام نۀ يو، يا مونږ له خدائے ملک نۀ دے راکړے، مونږ خو وينو چې زمونږ ملک په دنيا کښې د زمکې يو ډېره اباده او بهترينه ټُکړه ده، تاسو په خپله ورته نظر وکړئ، زمونږ ملک يو جنت نۀ دے؟ د دنيا کوم نعمتونه دي چې هغه په دې ملک کښې نۀ پيدا کېږي، کوم ځيزونه دي چې هغه دلته نشته، نو سره د دې ټولو خبرو بيا پښتون تباه او برباد دے، ذليل او خوار دے، بچي ئې بربنډ او وږي دي، اخر دا ولې؟ نو ورونړو! خبره دا ده چې ببشکه ملک خو مو شته، ولې اختيار مو پکښې نشته، قام خو يُو، خو غلامان يُو، نعمتونه خو هر څۀ زمونږ په ملک کښې پيدا کېږي خو فائده ئې بل يو قام ته رسي، ملک زمونږ دے، مزې پرې نور کوي.

دغه وجه ده چې د دنيا نور قامونه ترقي کوي او پښتون ورځ په ورځ د تباهۍ غار ته پرېوزي. دغه سبب دے چې پښتون وږے بربنډ او جاهل دے نو لنډه دا چې تر څو د دې خپل ملک اختيار د پښتون په لاس را نۀ شي، نو تر هغه وخته پښتون ترقي کولے نۀ شي. تر څو چې پښتون آزاد شوے نۀ وي، نو د دۀ حال ښۀ کېدے نۀ شي، تر څو چې پښتون د غلامۍ طوق له غاړې نه ايستے نۀ دے، پښتون د دنيا د نورو قومونو د سيالۍ لائق کېدے نۀ شي نو اوس په دې خبره غور کول پکار دي چې اخر دا ملک د پښتون د لاس نه ولې تلے دے او پښتون په څۀ خبره د نورو قومونو نه کمزورے دے، ولې د پښتون دوه لاسه دي، د نورو څلور دي؟ د پښتون يو سر دے، د نورو دوه دي؟ نا پښتون په هيڅ خبره د چا نه کم نۀ دے بلکې پښتون

پښتون په څۀ خبره دنورو قومونو نه کمزورے دے، ولې د پښتون دوه لاسه دي، د نورو څلور دي؟ د پښتون يو سر دے، د نورو دوه دي؟ نا پښتون په هيڅ خبره د چا نه کم نۀ دے بلکې پښتون د هر چا نه بهادر دے، ډېر زړور دے، اخلاص مند او مهمان نواز دے خو سره د دې صفتونو بيا ولې غلام دے؟

د هر چا نه بهادر دے، ډېر زړور دے، اخلاص مند او مهمان نواز دے خو سره د دې صفتونو بيا ولې غلام دے؟

نو ورونړو! تاسو ځان پوه کړئ، د دې نور هېڅ وجه نۀ ده، صرف دا يوه وجه ده چې د پښتون کـــــور وران دے، د پښتون اواز يو نۀ دے، په دۀ کښې پرې جنبې دي، په دۀ کښې بدنيتى او تربګنى دي، په دۀ کښې بُغض، کينې او خودغرضى دي، کۀ دوه پېسې ذاتي فائده مومي نو نۀ په قام څۀکار لري، نۀ ئې اسلام پکار وي، نۀ دملک د فائدې څۀ خيال ساتي، هر څۀ دې په سيند لاهو شي، خو د دۀ د پېسې فائده دې وشي، بيا هم عام پښتانۀ دومره ګرم نۀ دي، نۀ غريب خلق دومره قصور وار دي، کۀ څۀ خرابي ده او نقصانونه دي نو په خاصو خاصو خلقو کښې دي، يعنې پوهه او تعليميافته خلق زيات د خودغرضى نه کار اخلي، بلکې زۀ خو همېشه په تقريرونو کښې وايم چې غريب پښتون خو د ګډو يو ډېر ښۀ کنډک دے، ولې افسوس دے چې شپون نۀ لري، دا ګډې خو هر چا ته راغونډېږي په دې طمع چې دا به زمونږ شپون وي او مونږ به د شرمخانو نه بچ کوي ولې چا ته چې راغونډې شي، هم هغه دبډې نه چاړه را وباسي، د دوي مرى پرېکړي.



لنډه دا چې څۀ وخت مونږ د پښتنو په دې خراب حال نظر وکړو نو په دې نتيجه ورسيدو چې تر څو د پښتنو نه د دې خرابو خصلتونو د ايستو کوشش ونۀ کړے شي، دا خودغرضى، بې اتفاقى، پرې جنبې او تربګنى د دۀ نه ورکې نۀ کړلې شي نو دے هر ګز ترقي کولے نۀ شي او نۀ د غېر قام د پنجې نه آزادي حاصلولې شي نو هم د دې مطلب د پوره کولو د پاره مونږ د يوې نوې ورورى او نوي عزيز دارى بنياد کېښود او هغې ته مو نوم کېښود "د خدائي خدمتګارى تحريک" دا تحريک د اتو کالو نه مونږ شروع کړے دے، زمونږ دا کوشش دے چې د هر پښتون غوږ ته مونږ خپل اواز ورسوو او پښتانۀ په دې کښې شامل کړو.

د دې نوي ورورى په ذريعه مونږ پښتون قام بيا يو کول غواړو، په دوي کښې بيا مينه او محبت

پیدا کول غواړو، دوي بیا په یو آواز روانول غواړو، زمونږ په دې نوي عزیزدارۍ کښې هر یو پښتون کۀ غریب دے کۀ امیر دے، کۀ خان دے، کۀ ملک دے، کۀ میا دے، کۀ ملا وي، هندو وي، کۀ مسلمان وي په یو شان شریکېدے شي. صرف په یو شرط سره چې د خدائي خدمتګارۍ اصول کوم چې مونږه ایښي دي و پېژني او په هغې روانېدو ته تیار وي. (بس)

**(پښتون رساله 5 اپرېل 1938)**